مسئولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

مصطفی پسرلی ۲۰۲۰/۰۵/۲۱

غـزل

هم نغمه ومه هم سُر وم هم رباب وم
رنګيني ومه، ښکلا ومه، ګُلاب وم

په خپل لاس کښې د نصيب واګې زما وې
ځان ته خپله هم خُرما وم هم ثواب وم

د خپل کور واک به مدام له ما سره ؤ
هم ياغيانو هم باغيانو ته عذاب وم

له آمو تر اباسين مې لوی وطن ؤ
يوه قبله د هر جومات د هر محراب وم

تنده نه وه ليکل شوې زما په بخت کښې
هم مستي وم هم ساقي وم هم شراب وم

پسرلېه! څه ټپي وې څه غزلې
ګنجينه ومه د علم لوی دريا ب وم

مصطفی پسرلی
20/05/2020

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ